ا ب پ ت ټ ث ح خ چ ځ څ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش
ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل لا م ن ڼ ی ې ۍ ي

| | |
|---|---|
| **ا**<br><br>اوبه په اوبو ګډیږی<br>اوبه په ډانګ نه بیلیږی<br>اجل چی راشی وخت نه غواړی | اول ځان پسی جهان<br>انسان ته خبره، خره ته لرګی |
| **ب**<br><br>بدبختی یواځی نه راځی<br>برخی ازلی دی نه په زور او نه په سیالی دی | بی کفنه ښه ، خو بی وطنه نه<br>بی زحمته راحت نشته ، که راحت در لره غواړی ، زحمت درلره بوله |
| **پ**<br><br>پاک اوسه بی باک اوسه<br>پردی کټ تر نیمی شپی وی<br>پردی غم تر واوری سوړ دی<br>پړ می کړه مړ می کړه<br>پوره ورک دی کړل دوه کوره<br>پلار ګټلی زوی ته آسانه ده<br>په پردی لاس مار مه وژنه<br>په خوو تلوار په بدو تآمل<br>په ښه ورځ کی هر څوک دوست وی | په پچه وخوت کشمیر یی ولید<br>په درنو دروند، په سپکو سپک<br>په دوه ګوتو لمر نه پټیږی<br>په زور کلی نه کیږي<br>په هوا کی مانی نه جوړیږی<br>په یوه ګل نه پسرلی کیږي<br>په یوه سپاره دوړه نه خیږي<br>په یاری کی بنګړی ماتیږی<br>پیغله که توره هم وی، کور می تر ځار شه |
| پیل ته | Nach oben |

| | |
|---|---|
| **ت**<br>توبی  کاږی اوږدی  یې کاږی<br>تر څو جی ربښتیا راځی ، درغو به کلی وران کړی وی<br>تشه لاسه ته می دښمن یې | تللی وخت بیا نه راځي<br>ته له ما جار زه له تا جار |
| **ټ** | |
| **ج**<br>جال یی چی وینی جال وان یی نه وینی | جومات ته نژدی له خدایه  لیری |
| **ث** | |
| **چ**<br>چاږه که د سرو ده هسی نه چه د ځګر د منډو ده<br>چرګه نه ، چرګوړی یې بام ته وخاته<br>چی بد ګرځی بد به پرځی<br>چی څه کری هغه به ریبې<br>چی  و یې غواړی په خوله نو وبه یې خوری په څه<br>چی په آسانه یې ګټی، په آسانه یې بایلې<br>چی پیل ساتی، پیلخانی به جوړوی<br>چی جنګ سوړ شی، مریی تود شی<br>چی خان یې نو په یارانو یې، که یاران در سره نه وی، نو  خاوری د بیابان یې<br>چی چیری اوسی په مذهب به د هغو شی<br>چی د دوه و سره جګړه شی د دریم په کی ښه شی<br>چی رڼا دی وی له کوره ، ټول عالم پری رڼا پوله | چی سر نه وی ګودر نه وی، چی زر نه وی اختر نه وی<br>چی تیر شوه هغه هیر شوه، هوښیار نه ګرځی په تیرو پسی ډیر<br>چی نه لری سړې نه  کروت خوری نه غوړې<br>چی هر څومره هوښیار یې نادان وپوښته<br>چی هوګه یې نه وی خوړلی، له خولی یې بوی نه ځې<br>چی ډیر  غوریږی ، هومره نه اوریږې<br>چی زه او ته راځی نو څه دی دی قاضی<br>چی کار په هغه کار، چی نه کار په هغه دی څه کار<br>چی سر نه وی کدر نه وی<br>چی نه کار  هلته دی څه کار<br>چیرته چی میږونه وی هلته کورونه  وی |
| **ح** | |
| **خ**<br>خه وکړه په دریاب یې لاهو کړه<br>خپل وطنه ګل وطنه<br>خپل ښایست را پوری غم شو<br>خپل عمل دی لاری مل دې<br>خپله ژبه هم کلاه ده هم بلا<br>خپله لاسه ګله لاسه | خدایه لوی می کړی لویې  را نه کړې<br>خط له ټکې پیل کیږی<br>**خوله یې دی سوی شخوند وهی د اوښ**<br>خوب چی راشی بالخت نه غواړې<br>خیال خو په ګړی ګړی  په تیره د بدرنګ سړی رنګ سړې |

پیل ته | Nach oben

| | |
|---|---|
| **ځ**<br><br>ځمکه هغه سره وی چی اور پری بل وی | |
| **څ** | |
| **د**<br><br>دا ګز دا میدان<br>د تربور غاښ په تربور ماتیږی<br>د ښی غوښی بده ښوروا وی<br>د زوررو اوبه په جګه خیږي<br>د دوه رپیو همدومره ګوره ګیږي<br>د زرو په قدر زرګر ښه پوهیږي<br>د زړه، زړه ته لار ده<br>دوست به دی وژړوی دښمن به دی وخندوی<br>دوه به سره خپل شی که دریم په مینځ کی نه وی<br>د سوال په اوبو ژرنده نه ګرځی<br>د شګی په بند سیند نه بندیږي<br>د ښاره واوځه خو له نرخه مه<br>د خره مینه لغته ده<br>د خلکو زور د خدای زور دی<br>د دوه پیسو شادی د لس رپیو ځنځیر یي یوور<br>**د شیدو سويي مستی پوه کوی**<br>د غریب ملا په آذان خوک روژه نه ماته وی<br>د صبر میوه په مرادپخیږی | د عادت بلا په بسم الله نه ورکیږي<br>د غله په غره کی ځای نه شته<br>د لمدی ختی لړ اوبه پکار دی<br>**د لوګری چی لوته زړه نه کیږی نو لور په لوته اچوی**<br>د مړی کیدی فارسی وایی<br>د مشرانو خبره د کاڼی کرخه ده<br>د واده او ګور شپه نه په کور کیږی<br>د ورغويي تناکه ملغلره ده<br>د ړندو په ښار کی یو سترګی باچا وی<br>د کبر جن سر ټیټ وی<br>د دروغو مزل لنډ دی<br>درواغ د نا پوهه وزر دی<br>دروغجن حافظه نه لری<br>دروغجن دی درواغ وایي، عاقل دی قیاس کوی<br>د میلمه میلمه بدی راځی د کوربه دواړه<br>دوست ته حال وایه دښمن ته لاپی وهه<br>دومره خه مکوه چی پری ستومانه شی<br>د یار د پاره هندو د غوا غوښی خوړلی دی |
| **ذ** | **ډ** |
| **ر** | **ړ** |
| **ز**<br><br>زور یي د ملخ لګیږی یي پر مخ | زمکه هغه سره وی چی اور پری بل وی |
| **ژ**<br><br>ژرنده که دی پلار ده هم په وار ده | |
| **ږ** | |
| پیل ته | Nach oben |

| | |
|---|---|
| **س**<br>ساده سړی خدای ساتی<br>سپی چه لیونی شی خپل خاوند هم خوری<br>سپور د پلی له حاله څه خبر<br>سترګی له سترګو شرمیږی | سل دی ومره خو یو دی نه<br>سل روپی پور کړه د اختر شپه په کور کړه<br>سل روپی پور کړه ځوی په بازار لوی کړه |
| **ش**<br>شپه که تیاره ده، منی په شمار دی | |
| **ښ** | |
| **ص** | **ض** |
| **ط** | **ظ** |
| **ع** | |
| **غ**<br>غر که جګ دی په سر لاره لری | غر په غر نه ورزی خو سړی په سړی ورزی |
| **ف** | **ق** |
| **ک**<br>کار چی په سلا شی، بی بلا شی<br>کانړی به پوست نه شی او دښمن به دوست نه شی<br>که په تا باران وشی په ما به ځاځکی پریوزی<br>که خس یم د تا بس یم | کوږ بار منزل ته نه رسیږی<br>که ما ویل چی ته یې، که تا ویل چی ته یې، هم به ته یی هم به زه یم<br>که ما ویل چی زه یم ، که تا ویل چی زه یم ، نه  به ته یی  نه به زه یم |
| **ګ**<br>ګوره ګوره وایه خوله به دی خوره وی | |
| **ل**<br>لاری ډیری دی خو د میړو لار یوه ده<br>لږ یی خوره تل یی خوره<br>لږ به خورم  هوسا به اوسم<br>لمر په دوو ګوتو نه پټیږی<br>له خالی لوښی لوی آواز خیږی | له ګیری یی اخی پر بریتو یی ږدی<br>له خوو نه خه له بدو واخه<br>له بیکاری نه بیګاری ښه دی<br>له یوه لاسه ټک نه خیږی<br>لیوه هغه میږه وړی چی له رمی جلا وی |

| | |
|---|---|
| | **لا** |
| Nach oben | پيل ته |
| مه مې ياده وه  بد پلار ، چې ياد نکړمه ستا ښه پلار<br>مه کوه په چا چې وه به شي پر تا<br>موتې د خروار نمونه  ده<br>مور که ليوه هم شي خپل ځوی نه خوری<br>مه يې وهه په نوک چې وه دی نه وهی په څوک<br>مور د وږی له حاله څه خبر<br>ميلمه د کوربه سره نه جنګيږی | **م**<br>مات لاس غاړی ته وليږی<br>مار چې څومره کوږ ځی خپل سوری کی سميږی<br>مار يې لنډی کړ  خو مړ يې نه کړ<br>مار خوړلی له پړی ويريږی<br>مال خپل ساته ګاونډی غل مه نيسه<br>مساپری بده خواری ده<br>ملامت سترګی نه لری<br>مه ځه په هغه لار چې نه دی مور پری ځی نه پلار |
| نوم يې لوی کور يې وران<br>نيمچه ملا سړی کفر ته باسی | **ن**<br>ناپوه دومره په بل نه کوی لکه په ځان<br>نارينه غرونه غرونه، ښځی اړمونه |
| | **ڼ** |
| ورپی او نوک نه جلاکيږی | **و**<br>وروری به کوو خو حساب تر مينځه |
| هره ورځ د بلی مور ده<br>هيڅ ګل بې اغزی نشته<br>هوښياران ټکی پسی نه ګرځی | **ه**<br>هرچا ته خپل وطن کشمير دی<br>هر ځليدونکی ته ملغمره مه وايه<br>هر څوک خپل شی ښاغلی ګڼی<br>هره ورځ اختر نه وی |
| يو بام او دوه هوا | **ی**<br>يا خپل کور يا خپل ګور |
| Nach oben | پيل ته |

ا ب پ ت ټ ث ح خ چ ځ څ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش
ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل لا م ن ڼ ی ې ۍ ي